

# مجیب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیټه 31 می 2015 م

# زړګیه

زړګیه بی لمابه بل کوم عاصی نه وي
ستره ګناه څه،دوړی به مي مافی نه وي
زما په سمندر کې د ګناه لوی څپی دي
بس طوفانونو سره مخ بل ماهی نه وي
توبه کړم بیا ګناه په سر ګناه کړمه
عقبا کې به عذاب نه څه باقی نه وي
رنځ دی لړیدلی په علاج يې نپوهیږم
د خدای له رحمه پرته به شافی نه وي
ترخوچي زه د حق لاره معلوم نه کړم
یواځی ریاضت به مي کافی نه وي
مجیبه دا دنیا ډیره زود ګذره ده
تل به دی دا قدرت او ځوانی نه وي
***

مجیب الرحمن « خطیبي »

www.said-afghani.org- بازگشت به صفحه اصلی